# جديديت څۀ ته وائي

What is Modernism?

Dr. Bushra Khatoon*

**ABSTRACT**

Broadly speaking "Modernism" is said to have been characterized by a deliberate & often radical shift away from tradition & consequently by the use of new & innovative forms of expression. Thus the style & themes of the literature of the modern are markedly different from those that preceded them. The author of this paper has thrown light on the definition origin & these aspects of modernism.

څنګه چې په دې دنيا کښې د هر يو څيز عمر وي او په هغې عمر کښې هغه د مختلفو پړاؤنو يا Stages نه تېرېږي ـ دغه شان د يو قوم ادب هم د مختلفو پړاؤنو نه تېرېږي چې پکښې د کلاسيکيت او جديديت پړاؤنه ډېر ارزښت لري ـ جديديت دومره پخوانے شے دے څومره چې انسان ـ هر شے ، هر روايت هر سوچ چې پرون يو کال يا يو پېړۍ مخکښې نوے ؤ ، نن ورځ ، دا کال او دا پېړۍ زوړ دے او دغه شان نن ورځ ، دا کال ، دا پېړۍ او دا "Millinium" چې څۀ نوي دي هغه به صبا په راتلونکي ، کال ، پېړۍ او "Millinium" کښې زوړ وي ـ زما د وينا مطلب دا دے چې جديديت دومره خوره وره اصطلاح ده چې په پېړو محيطه کېدے شي او په ورځو کښې راټولېدے شي ـ په دې حقله ډاکټر عنوان چشتي وائي :-

" ادب اور زندگی میں نئے پن اور پُرانے پن کا تصور اضافی ہے ـ جو چیز آج نئی ہے ـ کل پرانی ہو جائے گی اور جو چیز آج پرانی ہے وہی کل نئی تھی ـ قدامت اور

* Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar

جدیدیت کا ایک تصور یہ ہے۔ کہ وہ چیز جو آج موجود ہے، نئی ہے۔ مگر یہ تصور غیر منطقی ہے کسی چیز کا محض موجود ہونا اس کے نئے پن کی دلیل نہیں ہو سکتا۔ دوسرا تصور یہ ہے کہ ہر وہ چیز جو آج خواہ نئی ہو یا پُرانی جو نئے دور کے مزاج سے ہم آہنگ ہے، نئی ہے۔ بغاوت سے پہلی قسم کی چیزوں کی شکست و ریخت ہوتی ہے۔ اسلئے نئی چیز وہی ہے جو عصری آگہی، نئی حِست اور نئے شعور سے متصف ہو اور نئے تقاضوں کا ساتھ دینے کی اہلیت رکھتی ہو۔[۱] ''

پروفیسر ډاکټر سلمٰی شاهین په خپل کتاب ''جدید نظم په پښتو'' کښې لیکي :

'' د ادبي اصطلاح په طور د جدید یا جدیدیت مفهوم د هرې زمانې یا د هر دور د ثقافتي تقاضو مطابق بدلیږي ۔زوړ نوے کیږي ، د زوړ په ځائے نوے راځي دا بدلون "Replacement" د لانبهٔ کېدو دپاره وي ۔دا بدلون د فارم په لحاظ هم او د فکر یا مضامینو په لحاظ هم کیږي ۔ځکه چې د جدید یا جدیدیت تعلق د وخت او زمانې سره وي ۔د وخت او زمانې انحصار د معاشرې په تهذیبي او ثقافتي رغونه وي ۔ځکه نو د هر دور د جدیدیت خپلې معنې وي ۔چې د هغه وخت د سماجي عمل نهٔ جوړې شوې وي ۔نو ځکه د هر عهد او د هر دور خپل مخصوص جدیدیت خپلې معنې وي ۔چې د هغه وخت د سماجي عمل نه جوړې شوي وي ۔نو ځکه هر عهد خپل مخصوص جدیدیت لرې ۔او دا جدیدیت هره زمانه کښې پیدا کیږي ۔د هر دور جدیدیت په راتلونکي وخت کښې کلاسیکي شي او د هر کلاسک خلاف د یو نوي جدیدیت ظهور کیږي ۔داسې ښکاري چې په هر دور کښې جدیدیت د نوي حقیقت په لټون یا د ادبي تکمیل په

غرض د وړاندې تللو لاړې هواروي ـ دا يو نۀ ختمېدونکې سلسله ده ـ ځکه چې ژوند د ارتقاء په لاره يون کوي[۲] "

د جديديت دور په ځينو قامونو مخکښې راغلے دے او په ځينو وروستو خو د هر قوم په ژوند کښې دا پړاؤ راځي ضرور ـ ځکه چې دا د فطرت قانون دے ـ چې وخت سره سره بدلون په هره معاشره کښې راځي ـ او د معاشرې غړي ددې نه په خوښه يا ناخوښه متاثره کېږي ضرور ـ وخت سره سره د خلقو په ژوند ژواک، خوراک څښاک ، جامه پېزار ، خبرو اترو ، ناسته پاسته عن تر دې چې د خلقو د ژوند د مقصدونو او سوچونو کښې هم بدلون راځي ـ او ددې هر څۀ کتنه مونږ په ادب کښې کولے شو ـ ځکه چې ادب مونږ ته د معاشرې يو "Cross Section" ښائي او هر ادب د خپل دور عکاسي او نمائندګي کوي ـ

جديديت د عربۍ ژبې لفظ دے ـ چې معنیٰ ئې ده "نوے" يا "نوے والے" "اوسنے" په انګرېزۍ ژبه کښې ددې دپاره د "Modernim" لفظ استعمالېږي ـ او "Oxford Advanced Learner Dictionary" ئې داسې معنیٰ کوي ـ

"Modern ideas or methods in Contrast to traditional ones, esp. In art or religion[3]".

ددې نه مراد مونږ د روايت پسندۍ او قدامت پسندۍ نه انحراف او بغاوت اخستے شو ـ د روايت نه تر جديديت پورې سفر د څو اهمو پړاؤنو نه تيرېږي چې په کښې د ځانګړتوب ، جدت او بغاوت پړاؤنه شامل دي ـ د روايت نه جديديت پورې دا سفر په يو سائيکل کښې روان وي ـ

" روایت سے جدیدیت تک کا سفر فن اور شاعری کا طویل، مسلسل اور تخلیقی سفر ہے۔ اس میں درمیانی سنگ میل بھی آتے ہیں۔ روایت ، فن اور تجربہ کا نقطۂ آغاز ہے۔ روایت کے بعد انفرادیت کی منزل آتی ہے۔ انفرادیت کے بعد جدّت اور جدّت کے بعد بغاوت کا دائرۂ عمل شروع ہوتا ہے۔ اس طرح اگرچہ شعری تجربہ کی اساس روایت ہے۔ مگر اس کو بغاوت اور اس کے بعد نئی ہیئت کی تعمیر

تک کئی منزلوں سے گزرنا پڑتا ہے۔ روایت کے اس پیچیدہ اور تخلیقی سفر کے ماحصل کے نام جدیدیت ہے۔[۴] "

د مشرق په حقله کښې مشهوره ده چې دوي روايت پسند دي او مغرب والا بغاوت پسند ۔ که مونږ د تاريخ مطالعه اوکړو نو پته به اولګي چې جديديت صرف تر مغرب پورې محدوده نه دے بلکې مخکښې مغرب کښې راغلے دے او وروستو مشرق هم ددې نه متاثره شوے دے ۔ په مغرب کښې د جديديت دور په يوه خاصه نامه "Renaissance" يادېږي ۔ چې اردو کښې ورته نشاة ثانيه وئيلے شي ۔ "Oxford Advanced Learner Dictionary" د "Renaissance" تعريف داسې کوي ۔

> "The Period in the 14th and 15th, 16th century during which there was a renewed interest in art and literature inspired by a presh study of ancient Greek ideas etc[5].

T. Singh د Renaissance په حقله وائي:

> "Renaissance means re-birth, Broadly speaking the Renaissance implies that reawaking of learning which came to Europe in the 14th and 15th century [6]"

په يورپ کښې د نشاة ثانيه دور مخکښې اټلي بيا فرانس او ډېر وروستو انګلينډ ته راغلے دے ۔ په دې لړ کښې اشتياق احمد وائي ۔

" عام طور سے یورپ میں مشہور ہے کہ نئی دنیا یعنی جدیدیت کا آغاز ۱۴۵۳ء سے ہوتا ہے۔ جب ترکوں نے قسطنطنیہ کو فتح کیا۔ اور یونانی عالم اپنی کتابیں لے کر وہاں سے بھاگے۔ اور سارے یورپ میں پھیل گئے۔ انہوں نے یونانی علوم یورپ والوں کو پڑھائے اس دور کو نشاۃ ثانیہ اس لئے کہا جاتا ہے۔ کہ یونان اور روم کے زوال کے بعد یورپ کا ذہن گویا مر گیا تھا۔ اور ہزار سال تک مدفون رہا۔ پندرھویں صدی میں جب یونانی علوم پھیلے تو مغرب کا ذہن دوبارہ پیدا ہوا۔[۷] "

پوهـان دا هـم وائـي چې دا خبـره سراسـر غلطـه ده ځکـه چې يونـاني علمونـه د "medival ages" راسې رائج وو ـ خو هغې له به دوېم نمبر حېثيت ورکېدے شو ـ او د ټولو نه لويه درجه د ديني علومو وه ـ په پنځلسمه صدئ کښې يوناني علومو له اوچت مقام ورکړے شو ـ دا علوم په وحي مشـتمل نهٔ وو بلکې عقلي وو ـ دوېمه خبره دا چې په يوناني علومو کښې په انساني نقطهٔ نظر باندې غـور کېدے شو ـ او انسـان د کائنات مرکز ګڼلے شو ـ په دې وجه دې تحريک تـه د انسان پرستئ Humanism نـوم هـم ورکړے شـو ـ ښاغلي اشـتياق احمـد ددې دور څـهٔ خصوصـيات هـم پـه ګوتـه کـړي دي ـ چې پـه هغـې کښـې د اهمـو خصوصياتو ذکر لاندې کولے شي ـ

۱. يوناني علومو له په ديني علومو ترجيح ورکول ـ
۲. انسان پرستي يعني انسـان لـه پـه ټولـو موجوداتـو فوقيت ورکـول او پـه هره خبره انساني نقطهٔ نظر سره غور کول ـ
۳. په خدائے ايمان يو رسمي شان له څيز اوګڼلے شو ـ
۴. د اخرت نه هم انکار اونهٔ کړے شو ـ خو د mdeival ages خلقو به وئيل چې اخرت حقيقت دے او دنيا دهوکه ده ـ اوس خلقو وئيـل چې دنيـا او اخرت دواړه حقيقت دے ـ
۵. اخرت چونکې ښکاري نه ، لهٰذا د هغې غم نهٔ دې کول پکار ـ او دنيـا د سـترګو د وړانـدې ده پـه دې وجـه ددې بندوبسـت کـول پکـار دي ـ ددې نظريې قائل انګريز فلسفي "Sir Francis Bacon" ؤ ـ هغـهٔ تـه د ټولـو نه وړومبے جديد مفکر هم وئيلے شي ـ
۶. دا خيال هم مقبول شو چې د خدائے دوه کتابونـه دي انجيـل او فطـرت ، لهٰذا د انجيل سره سره د فطرت مطالعه هم ضروري ده ـ
۷. دا چې اخلاقيات هېڅ شے نهٔ دے او چا چې طاقت حاصل کړو هغـه ښـهٔ دے او بيا طاقت هم لامحدود پکار دے ـ د اخلاقياتو دا نوې فلسفه د

اټلي مفکر میکاولي پېش کړې ده ـ هغۀ به وې چې بادشاهان دې د طاقت حاصلولو دپاره جائز او ناجائز هر څۀ کوي ـ

۸. په دې دور کښې د ''قوم'' او ''قومیت'' نوے تصور پېدا شو ـ قوم او وطن له هغه ځائے ورکړے شو څۀ چې خدائے له ورکول پکار دي ـ دا دور د تجارت د ترقۍ دور دے او ددې دور نه د موجوده سرمایه دارۍ اغاز کېږي ـ

په دې ټولو خاصیتونو کښې یو څیز مشترک دے او هغه دے د فرد اهمیت ـ نۀ صرف د نشاة ثانیه بلکې د پوره دور جدیدیت اصل روح انفرادیت پرستي ده ـ په تېرو پینځو سوؤ کالو کښې چې مغرب کښې کومې ګمراهۍ پېدا شوې دي ـ هغه ټولې د انفرادیت پرستۍ د تخم نه ټوکېدلې دي ـ انګرېزي ادب د جدیدیت ددې فضا نه ډېر متاثره شو او د قدامت پسندۍ ن ه انحراف او بغاوت اوکړے شو ـ اول په صرف د باچاګانو ، شهزادګانو او اشرافیه طبقې په حقله لیکل کېدل ـ کۀ هغه به منظوم ادب ؤ او کۀ منثور خو ولې په جدید دور کښې د معاشرې د عام وګړي د احساساتو او جذباتو ترجماني اوشوه ـ د هغې د پرېوتي حالت نه خلق خبر کړے شول ـ دا بغاوت د رومانویت په دور کښې ډېر زیات شوے دے ـ کوم چې په مغرب کښې په انګرېزي ادب کښې د نشاة ثانیه نه هم وروستو راغلے دے ـ اګرچې د رومانویت هم څۀ Concrete تعریف نشته ـ F.L.Lucas په The Decline & Fall of Romantic ideal کښې د رومانویت تقریباً ۳۹۲ ، ۱۱ تعریفونه شمېرلي دي ـ خو یو هم په کښې په تول پوره نۀ دے ـ رومانویت هم په هر ملک کښې په بېله طریقه او بېل وخت کښې راغلے دے ـ په جرمن کښې رومانویت د ادب نه زیاته فلسفه متاثره کړې ده ـ په فرانس کښې پرې انقلاب راغلے دے او په انګلېنډ کښې ئې ادب زیات متاثره کړے دے ـ په وړومبي ځل Schlegal د Romanticism داسې تعریف اوکړو چې :

"Romanticism is liberalism in literature"

په جدید انګرېزي ادب کښې د هېئت یا فارم په لحاظ او د موضوع په لحاظ ډېر بدلون راغے .په جدید دور کښې د انسانانو په احساساتو څۀ په مشینانو او په ګاډو هم لیکل اوشول. د مثال په توګه د "Sheila smith "the Ballade of a motorbus" او د "Sir Edmund Gosse The Charcoal Burner" د T.S Eliot Modern themes په حقله وائي :

> "The Essential advantage of a poet is not to have a beautiful world with which to deal, it is to be able to see beneath both beauty and ugliness, to see the boredom & the horror & the glory[8]"

شاعرانو ته ازادي حاصله شوه چې هغوي په دې کائنات کښې په څۀ څیز هم د خپلو خیالاتو اظهار کولے شي .په ادب کښې د وړو څیزونو بې ساه څیز او وړوکي ذي روح نه واخله تر انسان او مشینانو پورې په هره موضوع د لیک ازادي ددې دور خاصه ده.

د موضوع د تعین په حقله Dr T. Singh وائي.

> "Gone are the days when it was believed that the job of the poet was only to create beauty. He is free to write poems on themes ranging from kings to cabbages & from the cosmos to a pin's head.[9] "

اګرچې جدید انګرېزي ادب د نفسیاتو نه هم متاثره دے .او ډېر ادیبان لکه T.S.Eliot او Huxely وغېره د نفسیاتو نه متاثره دي .او دا د مادي ترقۍ او تیکنالوجي دور دے .خو د روحاني انحطاط ښکار دے .د T.S.Eliot نظمونه The Wasteland او The Hollow man ددې ښکاره مثالونه دي. د دوي نه علاوه ډي ، ایچ لارنس ، ایزراپاؤنډ او نورو هم په ازاد متې ادب تخلیق کړو.

> “Writers such as joseph Conrad and William Faulkner wrote the muscularity of the times; of man still attempting to control forces beyond his control & sometimes succeeding. Others like T.S Eliot,

D.H.Lawrence, Franz kafka, Fedreico Garcia Lorca, Ezra pound and Marcel proust wrote about the human condition at its worst & at its best[10] "

ددې نه علاوه ښځو هم په ادب کښې خپل اواز اوچت کړو ـ چې ښکاره نومونه پکښې د Gertrude Stcin او Virginia Wolf دي ـ

علامت نگارې ، استعارې او تشبيهات او Stream of Conscliousness ددې دور د ادب ښکاره خاصتونه وو۔

دا خو د مغرب د جديديت يوه خاکه شوه ـ اوس مونږ گورو چې په اسلام کښې جديديت څۀ شے دے ـ په دې لړ کښې ښاغلې اشتياق احمد په خپل کتاب جديديت کا تنقيدی تناظر کښې ليکي چې د انساني تهذيب په تاريخ کښې چې د جديديت کوم تحريکونه تېر شوي دي ـ په هغې کښې د ټولو نه مؤثر اسلامي تحريک ؤ ـ په قرآن کښې په تعقّل ، تدّبر او تفکر چې څومره زور ورکړے شوے دے ـ دومره په مخکښې صحيفو کښې نۀ ؤ ورکړے شوے ـ دجديديت بنياد په بدلون اېښودے شوے دے ـ دا حقيقت په قرآن حکيم کښې ددې آيت نه ظاهرېږي ـ

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَابِاَنْفُسِهِمْ ط (الرّعد : ۱۱)

ترجمه :- خدائے پاک د يو قوم حالت تر هغې نۀ بدلوي تر څو چې هغوي خپل حالت په خپله نۀ بدلوي ـ

په دې لړ کښې د معاشي او اقتصادي مسائلو حل کولو دپاره د رسول پاک صلعم او د خلفائے راشدين اقدامات د قدر وړ دي ـ

په ادب کښې د جديديت معنٰى و مفهوم واضحه کولو دپاره يو ځل بيا د ډاکټر عنوان چشتي خبره راخلم ـ

" عام طور پر جدت کے دو مفہوم ہیں۔ ایک یہ کہ شاعری میں جدید مسائل ، موضوعات ، رجحانات اور عصری آگہی کو سمونا ، دوسرے روایت کی ڈگر سے ہٹ کر نئے اسالیب و انداز کا سہارا لینا۔ مگر جدت میں یہ دونوں مفہوم شامل ہیں۔ پہلا

*مفہوم جدت کا داخلی پہلو اور دوسرا خارجی پہلو ہے۔ اس لئے ہر ایسی شاعری کو جدید شاعری کہا جاسکتا ہے۔ جس میں تجربے اور تازگی کی جھلک ملتی ہے ۔ [۱۱] ''*

صرف جدت برائے جدت ته مونږ فیشن خو وئیلے شو جدت نۀ شو وئیلے ۔ په جدت کښې ځانګړتوب ،نوې موضوع و اسلوب او نوے هیئت ضروري توکي دي ۔ روایتي موضوعات په نوي انداز کښې پېش کول هم د جدت برخه ده خو دا انداز دې ځانګړې او زړۀ راښکونکے وي ۔ بل د هر دور هر جدید ادب هم د خپل دور د چاپېریال اوثقافت عکاسي کوي ۔ رښتینے جدیدیت د خپل د ټولو تقاضو احترام کوي او د خپل دور د ټولو فکري اوجمالیاتي تقاضو د جذب کولو سره سره د روایت د ودې او ارتقاء یو تخلیقي اظهار وي۔

# حوالې

[۱] ډاکٹر عنوان چشتی، اردو شاعری میں جدیدیت کی روایت، (لاہور: تخلیق مرکز، سن ندارد) ص ۳۱

[۲] ډاکټر سلمیٰ شاهين، جديد نظم په پښتو کښې، (پېښور: يونيورسټي بک ايجنسي، ۲۰۰۳ء) ص ۱۰

[۳] Oxford Advanced Learner's Dictionary Ed; Jonathan Crowther , fifth edition *1995* S.V "Modernism."

[۴] ډاکٹر عنوان چشتی، اردو شاعری میں جدیدیت کی روایت، (لاہور: تخلیق مرکز، سن ندارد) ص ۱۴

[۵] Oxford Advanced Learner's Dictionary Ed; Jonathan Crowther, fifth edition *1995* S.V "Renaissance."

[۶] Dr. T.Singh, A History of English Literature (Lahore: kitab Mahal, No date), P 51

[۷] اشتیاق احمد، جدیدیت کا تنقیدی تناظر، (لاہور: بیت الحکمت، ۲۰۰۶) ص ۳۸

[۸] Dr. T.Singh, A History of English Literature (Lahore: kitab Mahal, No date) P 512

[۹] ibid

[۱۰] http://www.accuratepapers.com/samples/what-is-Modernism.pdf(accessed 19-12-16).

[۱۱] ډاکٹر عنوان چشتی، اردو شاعری میں جدیدیت کی روایت، ( لاہور: تخلیق مرکز، سن ندارد) ص ۲۷